مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۴/۰۳

# شاعر ته الهام

شاعر ته ښه ده، چې هــجران ووینې
یا د وطـــن، یا د جــانان ووینـــــــې

جوړ له انســـانه شي، دریــاب د علم
چې محرومیت په دې جهــان ووینـې

په هر انســان کې، دا د عـجز نښه ده
چې کم لـه تولو نه خـپل ځــان ووینې

د ژوند په قدر هم هـــغوي پوهــېږي
چې یا تنګــسه، او یـا زنـــدان ووینـې

د شاعر شـــــعر هم غـځــوني وکړي
چې پــه فریـاد کــــې بلبلان، ووینې

د زړه احساس بانـدی، ځوریـږي هله
چې پــه ماحــول کې، بـېدردان ووینې

پــه تـصور ورتـه الــهام شی د شـــعر
چــې ښـکلی مخ د خـپل جــانان ووینې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ